16

April
2026

# نیکي

## عمر زیاتوي



(For Islamic Brothers) هفته وراړه د سنّتونو ډکه اجتماع کښې کېدونکې د سنّتونو ډک بیان

پهٔ 16 اپریل، کال 2026ء (بمطابق: 27 شوال شریف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو
اِجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# نیکي عمر زیاتوي

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د ډیر عمر دُعا څنګه کول پکار دي ---؟
- جَنَّت ته د وړومبي تللو وجه
- د 100 کالو پهٔ عمر کښې هم جسماني طاقت سلامت
- د اِیمان د کمال د پاره ضروري عمل

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **مبارک دے:**

مَنْ اَکْثَرَ الصَّلَاةَ عَلَيَّ نَوَّرَ اللهُ قَلْبَهُ

**ترجمه:** څوک چې پۀ ما باندې ډير دُرُود شريف لولي **الله** پاک به د هغۀ زړۀ روښانه کړي۔ (1)

ان کی ہی بارگاہِ مُنَوَّر میں صبح و شام | کونین میں ہیں سب سے جو افضل، درود پڑھ
برسے گی رحمتِ شہِ ابرار بالیقیں | مٹ جائے گا گناہوں کا کاجل، درود پڑھ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے۔ (2)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔

راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ❀ د **الله** پاک د رضا

---

[1] ... بُستان الواعظين، مجلس ثان من مجلس السابع عشر، صفحه:405۔

[2] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

د پاره به تول بيان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښينم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!     صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نيک کارونو دُعاګانې کوئ!

**حضرت سفيان ثَوري** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **فرمائي:** يو ځل يو ګس امير المُؤمِنِين حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته دُعا اوکړه او وه يـې وئيل:

اَبْقَاكَ اللهُ

**اللّٰه** پاک دې تاسو ته ډير عمر در عطا کړي۔

د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سوچ ډير د کمال وو۔ مونږ ته که څوک د ډير عمر دُعا اوکړي نو پهٔ زړهٔ زړهٔ کښې خوشحاليږو، ذِهن ته مو خيال راځي چې داسې نيک اِنسان راته د ډير عمر دُعا کړې ده، اوس خو به زهٔ 100 کاله ژوند کووم (خير! پهٔ داسې خيال کولو کښې هيڅ خرابي نشته، د حضرت عمر بن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سوچ ته وګورئ!) هغوئي فوراً وفرمائيل:

هٰذَا قَدْ فُرِغَ مِنْهُ اُدْعُ بِالصَّلَاحِ

**ترجمه:** يعنې (عمر به څومره وي) دا خو ټاکلے شوې ده، زما د پاره د نيک اعمالو دُعا اوکړه! **(1)**

## د ډير عمر دُعا څنګه کول پکار دي ---؟

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** خبره واقعي چې د پوهې ده، عام طور ټول خلق د ډير عمر ژوندي اوسيدلو خواهش لري، عام طور مونږ يو بل ته دعاګانې هم کوو: ډير عمر

---

1...الطبقات الکبریٰ، رقم:995، عمر بن عبد العزيز، جلد:5، صفحه:297۔

ژوندے اوسي! الله دې ډير عمر درکړي! د مشرانو سره چې ملاقات کيږي نو هغوئي د مينې نه پۀ سر لاس راښکي او وائي: ژوندے اوسې!

پۀ دې دعاګانو کولو کښې هيڅ باک نشته، د ډير عمر پۀ دُنيا کښې د تيرولو هم خپل فضيلتونه دي خو زۀ خبره د سوچ کووم، حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پام راوګرځولو چې ژوند خو که هر څومره دے، نو بس دے، پۀ تقدير کښې ليکلے شوے دے، تۀ زما د پاره د نيک اعمالو دعا کوه چې د څو پورې زۀ ژوندے يم، نيکئ کووم-

سُبۡحٰنَ الله! دا سوچ مونږ له هم اختيارول پکار دي، پۀ خپل عادت کښې يې شامل کړئ! کله چې هم چا ته د ډير عمر دعا کوئ نو داسې يې کوئ! **الله** پاک **دې تاسو ته د نيکو نه ډک اوږد ژوند عطا کړي-**

رضاؔ منزل تو جیسی ہے وہ اِک میں کیا، سبھی کو ہے
تم اس کو روتے ہو، یہ تو کہو یاں ہاتھ خالی ہے

**وضاحت:** اے رضا! د تللو پہ غم کښې څه له ژاړې؟ تلل خو د ټولو مقرر دي، ټول به يو ورځ ضرور ځي. ژړا خو په دې پکار ده چې اعمال نامه مې د نيکو نه خالي ده.

## صرف ژوندي اوسيدل کافي نۀ دي

**الله** پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَمَا هُوَ بِمُزَحۡزِحِهٖ مِنَ الۡعَذَابِ اَنۡ يُّعَمَّرَ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيۡرٌۢ بِمَا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۶﴾

(پارہ:1، سورۂ بقرۃ:96)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: حالانکې دومره عمر ورکول به هُم هغه د عذاب نه بچ نکړے شي، او الله د هغوئي ټول اعمال ډير ښه ويني-

يعنې صرف پۀ دې دُنيا کښې پۀ کلونو ژوندي اوسيدل به د عذاب نه بچ نکړے شي- مرګ بهر حال ضرور راتلونکے دے- داسې نۀ کيږي چې فلانکے 2 زره کاله

ژوندے وو، ځکه به هغه بخښلے کیږي، فلانکے 50 کاله ژوندے وو نو هغه به رانیولے شي- الله پاک د هغوئي ټولو اعمالو ته ګوري، هر یو ته به د هغهٔ د ژوند نهٔ بلکې پهٔ ژوند کښې د کړو اعمالو بدله ورکړے کیږي-

ایک دن موت آ کر رہے گی ضَرور | اِس کو تم مجرِمو! کچھ سمجھنا نہ دور
بعدِ مُردَن(موت) نہ پاؤ گے کوئی سُرور | ایسے ہو جائے گا خاک سارا غُرور(1)

## ښهٔ څوک دے؟

زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خِدمت کښې پوښتنه اوشوه: اَیُّ النَّاسِ خَیْرٌ؟ یعنې بهترین اِنسان څوک دے؟ وه یې فرمائیل: مَنْ طَالَ عُمُرُهٗ وَ حَسُنَ عَمَلُهٗ یعنې د چا عمر چې ډیر او اعمال ښهٔ وي- بیا پوښتنه اوشوه: اَیُّ النّاسِ شَرٌّ؟ یعنې د ټولو نه خراب انسان څوک دے؟ وه یې فرمائیل: مَنْ طَالَ عُمُرُهٗ وَ سَاءَ عَمَلُهٗ یعنې د چا عمر چې ډیر او اعمال خراب وي، هغه بد بنده دے-(2)

مَعلُومه شوه چې اوږد ژوند هم ښهٔ دے او د اوږد ژوند خواهش کول هم ډیر ښهٔ کار دے خو چې اَعمال ښهٔ وي، د نیکو کټلو، د خپل رَبِّ کریم د راضي کولو د پاره د اوږد ژوند خواهش کول پکار دي. خو که اعمال بد وي، نو بیا اوږد ژوند مصیبت جوړیږي. ځکه مونږ له پکار دي چې د خپل ژوند د تګ لاره صحیح کړو-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## جَنَّت ته د وړومبي تللو سبب

ډیر د اوچتې مرتبې صحابئ رسول حضرت طلحه بن عبید الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي:

---

1...وسائل بخشش، صفحہ:654۔

2...ترمذی، کتاب الزہد، باب ماجاء فی طول العمر المؤمن ، صفحہ:557، حدیث:2330۔

یو ځل دوه کسان بارګاهِ رسالت ته حاضر شو، دواړو کلمه ووئیله او د صحابیت درجې ته وه رسیدل، (دواړه نیکان، پرهیزګاره وو، البته) په دوئي کښې یو په عبادت او ریاضت کښې ډیر زیات محنت کولو، نو کوم چې ډیر عبادت ګزار وو، دا یو ځل په یوه غزوه کښې شریک شو او شهید شو- بیا یو کال پس دویم صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم وفات شو-
حضرت طلحه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: د دې دواړو د دُنیا نه د تللو نه پس یوه شپه ما خوب ولیدو، څهٔ ګورم چې زهٔ د جَنَّت په دروازه باندې ولاړ یم، دا دواړه صحابۀ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهما هلته موجود وو، په دې کښې د جَنَّت نه څوک بهر راغلو او هغه صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کوم چې یو کال پس وفات شوے وو، هغوئي یې جَنَّت ته بوتللو، لږ ساعت پس بیا هغه بهر راغلو او هغه صحابي کوم چې یو کال مخکښې شهید شوے وو، بیا یې هغوئي هم جَنَّت ته داخِل کړو-

چې سحر شو نو حضرت طلحه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خپل خوب صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ته بیان کړو، ټول حیران وو، کله چې دا خبره سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ورسیدله نو نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اے صحابؤ! تاسو په څهٔ خبره حیران یئ؟ عرض یې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! یو صحابي ډیر عبادت ګزار وو، بیا د هغوئي د شهادت مرتبه هم نصیب شوه، د دې باوجود هغه وروستو جَنَّت ته داخِل شو او دویم صحابي کوم چې یو کال پس وفات شو، هغه مخکښې جَنَّت ته داخِل شو، د دې څهٔ وجه ده؟ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: آیا دا دویم صحابي یو کال زیات ژوندے نهٔ وو؟ عرض یې اوکړو: آؤ جي، وو- رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: آیا دهٔ د شهید شوي په نسبت یو کال د رمضان روژې زیاتې وه نهٔ نیولې؟ صحابؤ عرض اوکړو: آؤ جي، وه یې نیولې- نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیا پوښتنه اوکړه: آیا وروستو وفات شوي صحابي دومره سجدې زیاتې اونکړې؟ عرض

یـې اوکړو: آؤ جي، وه یـې کړې- پۀ دې باندې خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: بس پۀ دې وجه پۀ دې دواړو کښې د زمکې او د اسمان فرق دے-[1]

میں بے کار باتوں سے بچ کے ہمیشہ | کروں تیری حمدوثنا یاالٰہی!
مِرے دل سے دنیا کی چاہت مٹا کر | کر اُلفت میں اپنی فنا یاالٰہی!
عبادت میں گزرے مِری زندگانی | کرم ہو کرم یاخدا یاالٰہی!(2)

**اللہ** پاک دې مونږ ته د نیکو نه ډک ژوند راعطا کړي- راځئ چې د حدیثونو مبارکو پۀ رڼا کښې د ډیر عمر د موندلو یو څو نُسخې واورو:

## (1): نیکي عمر زیاتوي

پۀ حدیثِ پاک کښې دي، رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي:

لَا يَرُدُّ الْقَضَاءُ اِلَّا الدُّعَاءُ وَلَا يَزِيْدُ فِي الْعُمُرِ اِلَّا الْبِرُّ

**ترجمه:** صِرف دُعا تقدیر بدلولے شي او صرف نیکي ده کومه چې عمر زیاتوي-[3]

## د عمر زیاتولو معنیٰ

دلته یو وضاحت کووم: کوم اِنسان به پۀ دُنیا کښې څومره موده ژوندے وي؟ د هغه عمر به څومره وي؟ دا خو د مخکښې نه لیکلے شوي دي، بیا د حدیثونو پۀ رڼا کښې د عمر زیاتیدو څۀ معنیٰ ده؟ **علمائے کرامو د دې 2 مطلبونه ښودلي دي:** (1): د عمر زیاتیدو معنیٰ ده چې د اِنسان پۀ ژوند کښې برکت کیښودے شي چې هغه به پۀ کم وخت کښې ډیر کارونه اوکړي- لکه: د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عمر مبارک صرف 68 کاله وو خو هغوئي دومره کار کړے دے چې نن د ټیکنالوجۍ پۀ دور کښې 100 کسان

---

1... ابنِ ماجه، کتاب تعبیر الرؤیا، باب تعبیر الرؤیا، صفحه:631، حدیث:3925-

2... وسائل بخشش، صفحه:105 ملتقطاً-

3... ترمذی، ابواب القدر، باب ما جاء لا یرد القدر الا الدعاء، صفحه:516، حدیث:2139-

پۀ شريکه هم دومره کار نشي کولے- دا ده د عمر زياتيدو يوه معنىٰ چې د هغۀ پۀ وخت کښې به برکت کيښودے شي (2): دويمه معنىٰ دا ده چې بنده کله د عمر زياتولو والا کارونه کوي نو تَقدِيرِ مُعَلّق کوم چې د تقدير يو قسم دے په هغې کښې بدلون وکړے شي او د هغۀ عمر زيات کړے شي، الله پاک په قُرآنِ کَرِيم کښې دې خبرې ته اشاره کولو سره فرمائي:(1)

يَمۡحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ وَ يُثۡبِتُ ۚۖ
(پاره:13، سورۀ رعد:39)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: الله چې څۀ غواړي ورانوي يې او برقرار يې ساتي-

بهر حال! د عمر زياتيدو چې هر حالت هم وي، پۀ دواړو حالتونو کښې فائده ده-

## د نيکو کولو عادت جوړ کړئ!

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: نيکي عمر زياتوي-(2) پۀ قرآنِ کريم کښې دي:

مَنۡ عَمِلَ صَالِحًا مِّنۡ ذَكَرٍ اَوۡ اُنۡثٰى وَهُوَ مُؤۡمِنٌ فَلَنُحۡيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ
(پاره:14، سورۀ نحل:97)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: کومه زنانه يا سړے چې نيک عمل اوکړي او وي مسلمان نو مونږ به هغۀ ته ضرور پاک ژوند ورکوو-

معلومه شوه چې د **نيک اعمالو** پۀ برکت سره مؤمِن اِنسان ته پۀ دُنيا کښې حلال رزق، نيک، پاک، د سکون والا، د ارام او د راحت والا پاک ژوند عطا کولے شي-

## د نيک اعمالو 3 فائدې

حضرت حَسَن بن صالِح رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائيلي دي: **نيک عمل**: (1): پۀ وجود کښې

---

1...مرقاة المفاتيح، كتاب الدعوات، جلد:5، صفحه:121، زير حديث:2234-

2...ترمذی، ابواب القدر، باب ما جاء لا يرد القدر الا الدعاء، صفحه:516، حديث:2139-

طاقت (2): پهٔ زړهٔ کښې نُور او (3): پهٔ سترګو کښې رڼا پيدا کوي- او **خراب عمل**: (1): پهٔ وجود کښې کمزوري (2): پهٔ زړهٔ کښې تياره او (3): پهٔ سترګو کښې ړوند والے راولي-[1]

## د 100 کالو پهٔ عمر کښې هم جسماني طاقت سلامت

يو ډير لوئي عالِم تير شوے دے، علامه اَبُو طَيِّب طَبري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه، د هغوئي د 100 کالو نه ډير عمر وو، پهٔ دې عمر کښې هم هغوئي پهٔ ذِهني او جسماني توګه صحت مند وو، د هغوئي نه چې چا د صحت د راز پوښتنه اوکړه نو هغوئي وفرمائيل: ما پهٔ ځوانئ کښې خپل جسماني صلاحيتونه د ګناه نه محفوظ وساتل (ځان مې پهٔ نيک اعمالو کښې مصروف وساتلو)، د دې پهٔ برکت چې کله نن زهٔ بوډا شوم نو **اللّٰه** پاک زما جسماني صلاحيتونه زما د پاره باقي وساتل-[2]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا ده د نيک اعمالو دُنيائي فائده---!! څوک چې د ګناهونو نه ځان وساتي او پهٔ نيک اعمالو کښې مصروف اوسي، **اللّٰه** پاک هغهٔ ته د صحت او سلامتيا والا، د سکون نه ډک ژوند عطا کوي-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## (2): د مشرانو عزت

د حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کوم ځوان چې د کوم بوډا اِنسان عزت کوي، **اللّٰه** پاک داسې خلق مقرره وي چې کله دا ځوان بوډا والي ته ورسيږي، هُغه خلق به د هغهٔ عزت کوي-[3]

---

1... حِلۡيَةُ الۡاَوۡلِيَاء، جلد:7، صفحه:385، رقم:10941-

2... مجموع رسائل ابن رجب، جلد:3، صفحه:100-

3...ترمذی، کتاب البر والصلة، باب ما جاء فی اجلال الکبير، صفحه:489، حديث:2022-

د دې حديثِ پاک په وضاحت کښې اِمام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ليکلي دي: په دې کښې اِشاره ده چې د بوډاګانو عزت کوونکے به ډير عمر مومي، بوډا والي ته به رسيږي او د هغهٔ به عزت کيږي۔[1]

## د آقا ګاؤنډ ورکونکې نيکي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د مشرانو اَدَب او اِحترام هم ډيره د فضيلت والا نيکي ده۔ د درديدلو زړونو قرار، مکي مَدَني سردار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت اَنس رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ ته نصيحت اوکړو او وه يې فرمائيل: اے اَنسه! د مشرانو ادب او اِحترام کوه او په کشرانو شفقت کوه، په **داسې کولو به په جَنَّت کښې تهٔ زما ملګرتيا وه مومې۔** [2]

محفُوظ سَدا رکھنا شہا! بے ادبوں سے | اور مُجھ سے بھی سَرزَد نہ کبھی بے ادبی ہو[3]

معلومه شوه چې د مشرانو ادب او اِحترام د نجات سبب او په جَنَّت کښې د اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قرب موندلو ذريعه ده۔ څکه مونږ له پکار دي چې څوک په عِلم، عمر، عهده او منصب کښې زمونږ نه مشران دي، د هغوئي ادب او اِحترام اوکړو او زمونږ په مشرانو کښې مور او پلار، کشر ترهٔ، مشر ترهٔ، د ترور خاوند، ماما، مشران خوئيندې وروڼه او نور خپلوان، استاذان، پير او مُرشِد، علمائے کرام او مشائخِ عظام وغيره ټول شامل دي او څوک چې په عمر او مرتبه کښې وړوکے وي، د هغهٔ سره د شفقت او د محبت والا سلوک اوکړو۔

## ادب به څنګه کوې؟

په عوامي ژوند (***Social Life***) کښې زمونږ د خپلو مشرانو سره واسطه راځي،

---

1...احياء العلوم، کتاب آداب الالفة والاخوة، الباب الثالث، جلد:2، صفحه:243۔

2... شُعَبُ الۡاِيمان، باب فى رحم الصغير و توقير الكبير، جلد:7، صفحه:458، حديث:10981۔

3... وسائل بخشش، صفحه:315۔

ځکه ضروري دي چې مونږ په هر لحاظ سره د هغوئي د ادب او د اِحترام خيال وساتو، يو ځل په دربارِ رسالت کښې د حضرت مُحَيِّصَه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په موجودګۍ کښې حضرت عبد الرحمان بن سَهل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په عمر کښې د کم والي باوجود د خبرې کولو کوشش اوکړو نو حضور نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته د مشرانو ادب وښودلو او وه يې فرمائيل: **مشر خبرې کولو ته پرېږده۔** [1]

سُبْحٰنَ الله! دا د ادب تعليم دے چې کله مشر خبره کوي نو کشر له خاموشه اوسيدل پکار دي۔ دغه شان مونږ له پکار دي چې په هر لحاظ سره د مشرانو ادب اوکړو۔ مثلاً ❀ د ډوډۍ خوړلو په وخت د هغوئي نه مخکښې شروع نۀ کوو ❀ په مجلس کښې د هغوئي نه مخکښې خبرې نۀ کوو ❀ د هغوئي نه مخکښې نۀ ځو ❀ د هغوئي په مخکښې په تيز اواز خبرې نۀ کوو ❀ د هغوئي د رائے اِحترام کوو ❀ د هغوئي مشورې سنجيده اخلو، غرض دا چې په هر لحاظ سره مشران مشران ګڼو، هغوئي هميشه مقدم (يعني وړاندې) ساتو۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (3): صِله رحمي او د مور او پلار خِدمت

رسول رحمت، شفيعِ اُمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې خوښوي چې الله پاک د هغۀ عمر ډير کړي او رزق يې فراخه کړي، هغۀ له پکار دي چې (1): د مور پلار سره ښه سلوک کوي او (2): صِلَه رحمي کوي۔[2]

## سمندري ګنبد

1... بخاری، کتاب الجزیة والموادعة، باب الموادعة المصالحة...الخ، صفحه:814، حديث:3173 خلاصةً۔

2... مسند امام احمد مسند انس بن مالک، جلد:5، صفحه:776، حديث:14164۔

معلومه شوه چې د مور او پلار خِدمت کول د عمر زياتيدو او په رزق کښې د زياتوالي ذريعه ده- ځکه د مور او پلار ښه ډير خِدمت اوکړئ! په اخرت کښې چې به د دې کوم برکتونه نصيب کيږي، هغه خو به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هسې هم نصيب کيږي خو ورسره ورسره به دُنيا هم ښه شي-

په رَوضُ الرَّيَاحِين کښې دي: **اللّٰه** پاک حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي وفرمائيله چې د سمندر غاړې ته لاړ شئ او زما د قدرت نظاره اوکړئ- حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام د خپلو ملګرو سره تشريف يوړلو خو داسې هيڅ څيز په نظر رانغلو، نو يو پيري ته يې حکم اوکړو چې په سمندر کښې غوپه شه او د دننه خبر راوړه- هغه غوپه ووهله او واپس راغلو او عرض يې اوکړو: زه بيخ ته وه نه رسيدے شوم او نه مې څه څيز په نظر راغلو- حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام د هغه نه طاقت ور پيري ته حکم اوکړو، هغه د مخکښني پيري په مقابله کښې د دوه چنده ژورې پورې غوپه ووهله خو هغه هم څه خبر را نه وړے شو- حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام خپل وزير حضرت آصف بن بَرخِيا رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته حکم اوکړو، هغوئي په لږ ساعت کښې عالي شان د 4 دروازو والا سپين سمندري ګنبد راوړو او د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت مبارک کښې يې حاضر کړو! د هغې يوه دروازه د ملغلرو، دويمه د ياقوتو، دريمه د هيرې او څلورمه د زمرُدو وه، د څلور واړو دروازو د برسيره کيدو باوجود د سمندر د اوبو يو څاڅکے هم دننه نه وو- په هُغه سمندري ګنبد کښې دننه يو ښکلے ځوان په صفا سوتره جامو کښې په نـمونځ کښې مشغول وو، کله چې هغه د نـمونځ نه فارغ شو نو حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام سلام اوکړو او د هغهٔ نه يې د هُغه سمندري ګنبد د راز پوښتنه وکړه- هغهٔ عرض اوکړو: اے د **اللّٰه** پاک نبي! زما پلار معذوره او مور نابينا وه، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما 70 کاله د هغوئي خِدمت اوکړو، زما مور د وفات کيدو نه مخکښې دُعا اوکړه: يا **اللّٰه** پاکه! زما ځوي ته د خير سره ډير عمر عطا کړې- والِد صاحب د وفات کيدو په وخت دُعا اوکړه: يا **اللّٰه** پاکه! زما ځوي په داسې

ځائے کښې پۀ عبادت باندې ولګوې چې شيطان پکښې مداخلت نشي کولے- د والِد صاحب د وفات نه پس چې کله زۀ د سمندر غاړې ته راغلم نو ما دا سمندري ګنبد وليدو، زۀ دې ته دننه داخِل شوم- پۀ دې کښې يوه فرښته راغله او هغې دا ګنبد د سمندر بيخ ته کوز کړو- د حضرت سليمان عَلَیْہِ السَّلَام پۀ پوښتنه کولو هغۀ عرض اوکړو چې زۀ د حضرت اِبراهيم خليلُ الله (عَلَیْہِ السَّلَام) پۀ مقدس دور کښې دلته راغلے يم- حضرت سليمان عَلَیْہِ السَّلَام پوهه شو چې هغه 2 زره کاله پۀ **سمندري ګنبد** کښې تير کړي دي خو د اوسه پورې ځوان دے، د هغۀ يو ويښته هم سپين نۀ وو- د خوراک پۀ باره کښې هغۀ ووئيل: روزانه يوه شنه مرغۍ پۀ خپله مښوکه کښې څۀ زيږ څيز راوړي، زۀ هغه خورم، پۀ هغې کښې د دُنيا د ټولو نعمتونو خوندونه وي، پۀ هغې باندې زما لوږه او تنده ختميږي- د دې نه علاوه اَلْحَمْدُلِلّٰه! ګرمي، يخني، خوب، ناراستي، پرکالې، ويره ترخه وغيره دا ټول څيزونه زما نه لرې اوسي- د دې نه پس د هغه ځوان پۀ خواهش باندې حضرت آصف بن بَرخِيا رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْہ سمندري ګنبد اوچت کړو او د سمندر بيخ ته يې ورسولو- د دې نه پس حضرت سليمان عَلَیْہِ السَّلَام وفرمائيل: اے خلقو! **الله** پاک دې پۀ تاسو ټولو باندې رحم اوکړي، تاسو وګتل چې د مور او پلار دُعا څومره مقبوله وي! د مور او پلار د نافرمانۍ نه ځان ساتئ-[1]

سُبْحٰنَ الله! تاسو وکتل چې د هُغه ځوان د مور او پلار د خِدمت کولو څنګه ښکلې صِله نصيب شوه—!! څکه د مور او پلار ښه ډير خدمت اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د حديثِ پاک وعده به پوره کيږي، که **الله** پاک وغوښتل نو ډير عمر او د نيکو نه ډک ژوند به نصيب کيږي-

## صِله رحمي کوئ!

پۀ حديثِ پاک کښې نور وفرمائيلے شو چې پۀ صِله رحمۍ سره هم عمر زياتيږي- پۀ يو روايت کښې دي، **رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم** صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي:** يو کَس وو

1...روض الرياحين، صفحه:233 بتغير قليل-

د هغهٔ ژوند صرف 3 کاله پاتې وو، بیا هغهٔ صِله رحمي اوکړه نو **الله** پاک د هغه عمر 30 کاله زیات کړو-[(1)]

معلومه شوه چې د صِله رحمی پهٔ برکت هم پهٔ عمر کښې برکت راځي-

## ذَوِی القُربیٰ څوک دي---؟

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د صِله معنیٰ ده: ښیګړه او اِحسان کول- د رِحم نه مُراد: خپلولي ده- هغه کومې کومې رشتې دي د کومو سره چې ښه سلوک کول پهٔ صِله رحمی کښې شامل دے، واورئ! **الله** پاک فرمائي:

وَبِالۡوَالِدَیۡنِ اِحۡسَانًا وَّذِی الۡقُرۡبٰی (پارہ:1، سورۂ بقرة:83)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او مور او پلار سره ښیګړه کوئ او خپلوانو (سره ښه سلوک کوئ)-

د دې لاندې د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه لیکلي دي: ذِی الۡقُرۡبٰی هُغه خلق دي، د کومو رشته چې د مور او پلار پهٔ ذریعه وي، هغوئي ته ذِی رِحم هم وئیلے شي- ذِی الۡقُرۡبٰی پهٔ درې قِسمه دي: (1): د پلار خپلوان، لکه ❀ د پلار د طرفه نیا نیکهٔ ❀ ترونه ❀ تروریاني ❀ د پلار میرنه وروڼه وغیره (2): د مور خپلوان لکه ❀ د مور د طرفه نیا نیکهٔ ❀ ماما ګان ❀ تروریاني ❀ د مور میرنه وروڼه وغیره (3): د مور او پلار دواړو رشته دار، لکه سکه وروڼه خوئیندې وغیره -[(2)]

دا قِسمه چې کوم خپلوان دي، د دوئي سره زمونږ خپلولي د مور او پلار پهٔ وجه وي، د دې نه یو زنځیر جوړیږي، مونږ دُنیا ته د مور او پلار پهٔ ذریعه باندې راغلو، ځکه پهٔ مونږ باندې د مور او پلار حقونه لازم دي، بیا دا تهول ❀ نیا نیکه ❀ وروڼه، خوئیندې

---

1...قرة عیون ومفرح القلب المحزون، الباب التاسع، صفحه:114، رقم:126-

2...تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرة، زیرِ آیت:83، جلد:1، صفحه:512-

وغيره د مور او پلار خپلوان دي، لهذا په مونږ باندې د دوئي حقونه هم لازمي دي۔

## د نزدې حق زيات دے

رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بے شکه **الله** پاک ❁ ستاسو د مئيندو په باره کښې تاسو ته وصيت فرمائي ❁ بيا ستاسو د مئيندو په باره کښې تاسو ته وصيت فرمائي ❁ بيا ستاسو د والِد په باره کښې وصيت فرمائي ❁ بيا چې کوم نزدې خپلوان دي ❁ بيا د هغې نه د لرې والا ❁ بيا د هغې نه د لرې والا (داسې چې کوم نزدې خپلوان دي، د هغوئي حق هم زيات دے)۔ (1)

## الله هغه ماتوي

نن سبا خلق په وړه وړه خبره تعلقات پريږدي، فلانکي د ځوي د وادهٔ دعوت رانکړو، ځکه زما د هغهٔ سره غم ښادي ختمه---!! فلانکي کور ته راوبللم او قدر مدار يې راله اونکړو، ځکه د نن نه د هغهٔ سره زمونږ هيڅ تعلق نشته، فلانکي خپل زما د دُکان په ځائے په خوا کښې د دُکان نه سودا واخستله، ځکه د هغهٔ سره زما خبرې بندې، بالکل په معمولي معمولي خبرو باندې غم ښادي ختمولے (يعني رشتے ماتولے) شي حالانکې د کومو خپلوانو سره چې د صِلهٔ رحمی حکم دے د هغوئي سره خپلولي پريښودل، سخته ګناه ده۔ په **حديثِ پاک** کښې دي: **ځوک چې رشته ماتوي، الله پاک هغه ماتوي۔** (2)

## د خپلوانو يو څو حقونه

**په بهارِ شريعت کښې دي:** ❁ خپلوانو له تحفه ورکول ❁ که د هغوئي په څهٔ څيز کښې تاسو ته د مدد ضرورت شي نو د هغوئي مدد کول ❁ هغوئي ته سلام کول ❁ د

---

1... الادب المفرد، باب بر الاقرب فالاقرب، صفحه:31، حديث:60۔

2... ابو داؤد، کتاب الزکاة، باب صلة الرحم، صفحه:276، حديث:1694 خلاصةً۔

هغوئي د ملاقات د پاره تلل ❁ د هغوئي سره ناسته پاسته ❁ د هغوئي سره خبرې اترې کول ❁ د هغوئي سره د شفقت او مهربانۍ سلوک کول، ټول د صِله رحمی (يعنې د خپلوانو سره د ښه سلوک) شکلونه دي- (1)

## که په بهر ملک کښې وي نو خط ور ليږئ

نور په **بهارِ شريعت کښې ليکلے شوي دي:** که اِنسان په بهر ملک کښې وي نو خپلوانو ته دې خطونه راليږي (که د اوسني وخت خبره اوکړے شي نو وخت په وخت دې د هغوئي سره په ټيلفون باندې خبرې کوي)- د هغوئي سره دې رابطه نۀ کمزورې کوي د پاره د دې چې لا تعلقي نۀ پيدا کيږي، که کيدے شي نو چې خپل ملک ته واپس راشي نو د خپلوانو سره دې ميلاؤ شي او تعلقات دې تازه کړي- (2)

## د کوم کوم رشته دار سره به کله کله ميلاؤيږي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د خپلوانو سره ميلاؤيدل هم د هغوئي په حقونو کښې دي،لهذا د هغوئي سره کله کله ميلاؤيدل پکار دي، مثلاً يوه ورځ د ميلاؤيدو د پاره لا رې نو بله ورځ مۀ ځئ، د هرې جُمعې په ورځ ميلاؤيږئ، که خپلوان لرې اوسيږي نو په مياشت کښې، په دريو څلورو مياشتو کښې يو ځل د ميلاؤيدو د پاره ځئ-

دلته يوه خبره عرض کړم، د کومو خپلوانو نه چې پرده ده، مثلاً د ترور د لونړو، د ماما د لونړو نه د نارينه پرده ده، د کشر ترۀ د لونړو، د مشر ترۀ د لونړو نه هم پرده ده، د هغوئي نه به پرده کول وي، هغوئي ته د وائس ميسج يا ويډيو ميسج وغيره کولو نه هم ډډه کول پکار دي- البته! د مور د طرف ترور، د پلار د طرف د ترور وغيره د کومو نه چې پرده نشته، د هغوئي سره د ميلاؤيدو د پاره هم ځئ! په فون ورسره خبرې هم کوئ! که

---

1...بهارِ شريعت، جلد:3، حصه:16، صفحه:559 بالتغير-

2...بهارِ شريعت، جلد:3، حصه:16، صفحه:559-

غواړۍ نو ویډیو کال هم کولے شۍ۔

## که خپل حاجت پیش کړي نو رد کول یـې ګناه ده

مفتي امجد علي اعظمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په **بهارِ شریعت** کښې نور لیکلي دي: کله چې څوک خپل خپلوان څۀ حاجت پیش کړي نو د هغۀ حاجت پوره کوئ، د هغې رد کول قطعِ رحمي (یعني رشته ماتول) دي۔ [1] مثلاً د رشته دار پیسو ته ضرورت دے، هغه قرض غواړي، که رقم ورکولے شۍ نو ورکړئ! د وَس لرلو باوجود رَد کول یـې قطع رحمي ده کوم چې وبال دے۔

## که هغه یـې ماتوي نو تۀ یـې بیا هم جوړوه

د خپلولۍ یو حق دا هم دے چې که رشته دار تعلق پریږدي نو چې مونږ یـې بیا هم وساتو۔ په **حدیثِ پاک** کښې دي: لَيۡسَ الۡوَاصِلُ بِالۡمُكَافِئِ، وَلَكِنَّ الۡوَاصِلَ الَّذِى اِذَا قُطِعَتۡ رَحِمُهُ وَصَلَهَا یعنې صِله رحمۍ کولو والا هغه نۀ دے کوم چې اَدلا بَدلا کوي (مثلاً رشته دار سلام اوکړي نو دے ورته هم سلام کوي، چې نۀ یـې کوي نو دے یـې هم نۀ کوي، که هغه ښه سلوک کوي نو دے یـې هم کوي، که بد کوي نو دے هم بد کوي، فرمائي: دا صِله رحمي نۀ ده) بلکې صِله رحمۍ کولو والا هُغه دے چې رشته دار د هغۀ سره تعلق پریږدي، دا یـې بیا هم ساتي۔ [2]

## الله ستا مددګار دے

یو ځل یو صحابي رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ دربارِ رسالت ته حاضر شو او عرض یـې اوکړو: یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زما ځینې خپلوان دي، زۀ د هغوئي سره تعلق ساتم، هغوئي یـې پریږدي، زۀ ښه سلوک کووم، هغوئي په بدۍ سره راځي، هغوئي زما سره د جهالت

1... بهارِ شریعت، جلد:3، حصه:16، صفحه:559۔

2... الادب المفرد، باب لیس الواصل...الخ، صفحه:33، حدیث:64 خلاصه۔

والا معامله کوي، زۀ يـې برداشت کووم- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: تۀ چې د څو پورې داسې کوې، د **اللّٰه** پاک د طرف نه به يو مددګار ستا د پاره مقرر وي- (1)

يعني تۀ چې د څو پورې د خپلوانو بدئ برداشت کوې، د هغوئي سره ښيګړه کوې، ستا به غيبي مدد کيږي- **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د مور او پلار، ورونړو، خوئيندو او د نورو خپلوانو د حقونو د ادا کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## (4): ښه اَخلاق او د ګاؤنډيانو سره ښيګړه

د مسلمانانو د خوږې مور جاني سيده عائِشه صِدِّيقه طَيِّبَه طاهِره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دے، د نبيانو نبي، رسولِ هاشمی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: حُسنِ اَخلاق او ګاونډي سره نيکي (دا هم) هُغه نيکئ دي کومې چې ښارونه ابادوي او عُمرونه زياتوي. (2)

## د ګاؤنډي خيال ساتئ!

پۀ دې روايت کښې دوه نورې نيکئ اِرشاد شوې: د ګاؤنډي سره ښيګړه او ښه اَخلاق- څکه مونږ له پکار دي چې ښه اخلاق هم اِختيار کړو او د ګاؤنډيانو سره ښه سلوک هم اوکړو-

حضرت عبد اللّٰه بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: يو ګَس په دربارِ رسالت کښې عرض اوکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ما ته به څنګه معلوميږي چې زۀ ښه کووم که بد کووم (يعني ما ته خو خپل ټول کارونه ښه معلوميږي خو واقعةً د ښه او بد کار علامت څۀ دے)؟ نبئ رحمت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: کله چې تۀ

---

1... الاَدَبُ المفرد، باب فضل صلة الرحم، صفحه:29، حديث:52 خلاصه-

2...مسند امام احمد، مسند عائشة، جلد:10، صفحه:343، حديث:26001-

خپل ګاؤنډي په داسې وئيلو واورې چې تا نيکي اوکړه نو واقعي چې تا نيکي اوکړه او کله چې ته ګاؤنډي په داسې واورې چې تا بدي اوکړه نو واقعي چې تا بدي اوکړه۔ (1)

## د اِيمان د کمال د پاره ضروري عمل

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په اِسلام کښې ګاؤنډي ته ډير اهميت ورکړے شوے دے، د دې پورې چې هغه اعمال د کومو په ذريعه چې زمونږ اِيمان کامِل کيږي، په هغې کښې د ګاؤنډي سره ښه سلوک هم شامل کړے شوے دے يعني مونږ د هغه وخته پورې کامِل مؤمِن نشو کيدے د څو پورې چې د ګاؤنډي حقونه ادا نکړو۔ د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ لَا يَأْمَنُ جَارُهٗ بَوَائِقَهٗ هغه بنده (کامِل) مؤمِن نشي کيدے د چا ګاؤنډي چې د هغهٔ د شَر نه محفوظ نهٔ وي۔ (2)

## هغه اِيمان والا نشي کيدے څوک چې---

يو ځل د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې کرته په **الله** پاک قَسم وخوړلو او وه يې فرمائيل: :وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ په الله مې دې قَسم وي! هغه مؤمِن نشي کيدے وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ په الله مې دې قَسم وي! هغه مؤمِن نشي کيدے وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ په الله مې دې قَسم وي! هغه مؤمِن نشي کيدے۔ صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څوک مؤمِن نشي کيدے؟ وه يې فرمائيل: اَلَّذِیْ لَا يَأْمَنُ جَارُهٗ بَوَائِقَهٗ هغه د چا ګاؤنډي چې د هغهٔ د شر نه محفوظ نهٔ وي۔ (3)

خیر خواہ ہم بھی پڑوسی کے بنیں | یہ کرم یا مصطفٰے فرمایئے!

1... ابن ماجه، كتاب:الزهد، باب:الثناء الحسن، صفحه:685، حديث:4222۔

2... مسند بزار، جلد:16، صفحه:215، حديث:9362۔

3... بخاری، كتاب:الادب، صفحه:1500، حديث:6016۔

نعمتِ اخلاق کر دیجیے عطا | یہ کرم یا مصطفٰے فرمایئے!

## د ګاؤنډي يو څو حقونه

د مدینے منورې سردار، د زړونو قرار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: [تاسو ته] معلومه ده چې د ګاؤنډي حق څۀ دے؟ بیا یـې وه فرمائیل: ❀ که هغه ستا نه مدد وغواړي نو د هغۀ مدد اوکړه ❀ که ستا نه قرض وغواړي نو هغۀ له قرض ورکړه ❀ که هغه محتاج وي نو د هغۀ حاجت پوره کړه ❀ که بیمار شي نو د هغۀ تپوس اوکړه ❀ که هغه وفات شي نو د هغۀ پۀ جنازه کښې شرکت اوکړه ❀ که هغۀ ته څۀ خیر ورسیږي نو اُمبارکي ورکړه ❀ که هغۀ ته څۀ مصیبت ورسیږي نو غمرازي ورسره اوکړه ❀ د هغۀ د اِجازت نه بغیر د هغۀ د کور نه اوچت کور مۀ جوړوه چې هغۀ ته هوا نۀ رسیږي ❀ګاؤنډي ته تکلیف مۀ رسوه ❀ که تۀ څۀ میوه راوړې نو پۀ هغې کښې ګاؤنډي له هم څۀ لیږه ❀ که داسې نشي کولے نو پۀ پټه یـې راوړه او خپلو بچو ته هم هُغه میوه بهر وړلو له مۀ ورکوه ولې چې د ګاؤنډي بچي به د دغې میوې پۀ وجه باندې غمژن شي ❀او د خپلې کټوۍ پۀ خوشبويۍ باندې ګاؤنډي ته تکلیف مۀ رسوه خو دا چې څۀ اِینګولے [ترکاري] هغۀ له هم ولیږه- د دومره فرمائیلو نه پس خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اَتَدۡرُوۡنَ مَا حَقُّ الۡجَارِ وَالَّذِیۡ نَفۡسِیۡ بِیَدِهٖ مَا یَبۡلُغُ حَقَّ الۡجَارِ اِلَّا قَلِیۡلاً مِّمَّنۡ رَّحِمَ اللّٰهُ یعني [تاسو ته] معلومه ده چې د ګاونډي حق څۀ دے؟ پۀ هُغه ذات مې دې قَسم وي د چا پۀ قدرت کښې چې زما ځان دے! د ګاؤنډي حق هُم هغه کس ادا کولے شي پۀ چا باندې چې **اللّٰه** پاک رحم اوکړي- (1)

## د بیان خُلاصه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا یو څو روایتونه مونږه واوریدل، د کومو خُلاصه چې

1... شعب الایمان، باب: فی اکرام الجار، جلد:7، صفحه:83، حدیث:9560-

دا ده چې ❁ هر قِسمه نيک عمل ❁ د بزرګانو ادب کول ❁ د مور او پلار خِدمت ❁ صِله رحمي ❁ ښه اَخلاق ❁ او د ګاؤنډیانو سره ښه سلوک کول، هٔغه ښه اعمال دي د کومو په برکت سره چې په عمر کښې برکت راځي- **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د دې ټولو نيکو اعمالو د پوره ادا کولو توفيق راعطا کړي او زمونږ د ټولو دې د نيکو نه ډک ژوند او په مدينه منوره کښې د اِيمان او د عافيت سره د شهادت مرګ نصيب کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مفتي امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ذِکرِ خير

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د ذِيقعده مياشت تشريف راوړونکې ده، په 2 ذيقعده **يومِ صدر الشريعه** نمانځلے شي، راځئ چې د بيان په اخره کښې د صدرُ الشريعه مفتي امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ذِکرِ خير هم واورو: ❁ مُحسِنِ اهلسُنَّت، خليفه اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه، د بهارِ شريعت ليکونکي حضرت علامه مولانا مفتي محمد اَمجَد علي اعظمي رضوي، سني، حنفي، قادري، برکاتي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په 1300 هجری کښې د هندوستان په يو کلي مدينةُ العلماء ګهوسي شريف کښې دُنيا ته تشريف راوړلو ❁ هغوئي خپل ورومبے تعليم د خپل نيکهٔ بابا جان حضرت مولانا خُدا بخش رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نه هم په کور کښې حاصل کړو ❁ بيا يې په خپل کلي کښې په مدرسه ناصِرُ العلوم کښې سبق ښودلو ❁ بيا جونپور ته لاړو او د مولانا محمد صِدِّيق رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نه يې څهٔ سبقونه ولوستل، په اخره کښې د حضرت علامه هدايَتُ الله خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو او درسِ نظامي يعني عالِم کورس يې مکمل کړو ❁ د دې نه پس امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په پيل بهيت کښې د حضرت مولانا وَصِي احمد سُورتي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په

خِدمت کښې حاضر شو او د هغوئي نه يې دورۀ حديث شريف مکمل کړو- (1)

❁ د صدر الشريعه رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه دا سعادت هم نصيب شو چې هغوئي 18 کاله د اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه پۀ صحبت مبارک کښې تير کړي وو- (2)

مُرشِدِ کامِل کا مَنظُورِ نظر امجد علی | اس پہ دائم لطف فرما چشم حق بینِ رضا

**وضاحت:** يعني صَدرُ الشريعه، مفتي محمد امجد علي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه خپل پير او مرشِد اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه ته ډير ګران دے، د اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه حق پيژندونکے نظر هميشه پۀ هغوئي باندې کرم فرمائي-

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** صَدرُ الشريعه، مولانا امجد علي اعظمي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه د اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه پۀ خِدمت مبارک کښې د حاضريدو نه پس ټول عمر د دِين پۀ خِدمت کښې مصروف وو، اخر يې پۀ کال 1367 هجری بمطابق کال 1948ء کښې د حج اِراده اوکړه او مدينے منورې ته روانيدو د پاره پۀ سمندي جاز کښې تللو د پاره د خپل وطن مدينةُ العلماء ګهوسي نه يې بمبیٔ ته تشريف يوړلو، هلته د هغوئي نمونيا شوه او پۀ جاز کښې د کيناستو نه مخکښې د ذيقعدة شريف پۀ دويمه شپه، 26 منته د پاسه پۀ 12 بجې د دې فاني دُنيا نه رُخصت شو- (3)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** مرګ خو ضرور راځي خو د صَدرُ الشريعه رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه قِسمت ته وګورئ چې د حج د سفر پۀ وخت هغوئي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه د اخرت سفر شروع کړو او د حديثِ پاک مطابق کوم ګس چې د حج د پاره د کور نه ووځي او پۀ لار کښې وفات شي نو د قيامته پورې به د هغۀ د پاره د حج کوونکي ثواب ليکلے کيږي- (4)

---

1...تذکرۂ صَدرُ الشّریعَه، صفحه:65-

2...تذکرۂ صَدرُ الشّریعَه، صفحه:158 ملتقطاً-

3...تذکرۂ صَدرُ الشّریعَه، صفحه:39-

4... مُسند ابو یعلی، جلد:5، صفحه:44، حدیث:6350-

مدینے کا مسافر ہند سے پہنچا مدینے میں | قدم رکھنے کی بھی نوبت نہ آئی تھی سفینے میں

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اِسلامي د يوې شعبې تعارف: اِصلاحِ اَعمال

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د اُمت د خير ښېګړې او د نيکو ترغيب ورکوونکے دِيني تنظيم دے، دعوتِ اِسلامي د مختلفو شعبو پهٔ ذريعه د اُمت د خير ښېګړې کارونه کوي، پهٔ دغه شعبو کښې يوه شعبه اِصلاحِ اَعمال هم ده- د دې شعبې پهٔ ذريعه د خپلو اَعمالو د جائزې اخستو، د مختلفو نيکو اعمالو مثلاً ❁ د روژې د نيولو ❁ د فضول کارونو نه د بچ کيدو او د خاموشه اوسيدو ❁ سترګې د ګناهونو نه پهٔ بچ کولو د ښکته ساتلو وغيره ذِهن ورکولے شي-

اوس د اِجتماع نه پس يا څهٔ وخت هم پهٔ خپل ځائے کښې د نيک اعمال د ذمه دار نه نور تفصيل حاصل کړئ يا د مکـتـبة الـمدينه د نيک اعمال رساله حاصله کړئ يا که غواړئ نو په خپل موبائل کښې د نيک اعمال ايپلي کيشن ډاون لوډ کړئ او په هغې کښې ورکړے شوي سوالونه ولولئ ❁ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي ❁ د هٔغه خانو پهٔ ذريعه روزانه جائزه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډيره فائده به وي ❁ اخلاق به مو ښه کيږي ❁ کردار به مو ښه کيږي ❁ عادتونه به مو ښه شي ❁ پهٔ نيکو باندې به اِستقامت نصيب کيږي ❁ د ګناهونو نه به نفرت کيږي ❁ زړهٔ به روښانه کيږي ❁ د الله پاک محبت به نصيب کيږي ❁ عشقِ رسول به زياتيږي ❁ روحانيت به نصيب کيږي او ❁ د اخرت فِکر به نصيب کيږي-

د دې شعبې لاندې پهٔ تير يو کال کښې د لکونو په شمير کښې د نيک اعمال رسالې وصول کړے شوې، تقريباً يو لاکھ 19 زره د تهجدو او پيشمني اِجتماعات وشول پهٔ کومو کښې چې د 14 لاکھه 50 زره نه زياتو کسانو شرکت اوکړو-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!   صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** ❁ د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ **مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم د د ماسخوتن د نـمونځ نه پس اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پۀ دې مَدَني مذاکره کښې ځپله هم شرکت وکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د دعوتِ اِسلامي د ذمه دارانو پۀ نوم تحريرات** اعلان کولے شي- دا رساله ځپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **اللّٰه** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ❁ مکـتبة الـمدينه يو ښکلے کتاب پۀ نوم د **صحابيات و صالحات کے اعلیٰ اوصاف** چاپ کړے دے- پۀ دې کښې د اِسلامي تاريخ د عظيمو زنانؤ (صحابياتو او نيکو بيبيانو) پاک کردار او د هغوئي د ژوند مختلف اړخونه راښکاره کړے شوي دي، دا کتاب خاص طور زمونږ د هٔغه زنانؤ او لوڼو د پاره يوه بهترينه تحفه ده کومې چې خپل ژوند د صحابياتو پۀ نقشِ قدم باندې تيرول غواړي- دا کتاب د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه په **620 روپۍ** پۀ بيعه اخستے شي-

## د عُشر ترغيب

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د عاشقانِ رسول ديني تنظيم دعوتِ اسلامي د 80 نه زياتو شعبو په ذريعه په ديني او فلاحي کارونو کښې مصروف دے، د دې کارونو سر ته رسولو د پاره د ډېرو پيسو ضرورت وي. د غنمو د رېبلو موسم دے، زميداران عاشقانِ رسول په دې ورځو کښې د خپل فصل په خصوصي توګه عشر وباسي. زميدارو عاشقانِ رسول ته عرض دے چې خپل عُشر دعوتِ اسلامي ته ورکړئ او د کومو اسلامي ورونو چې د زميدارو اسلامي ورونو سره رابطې وي هغوئي ته دې د دې ترغيب ورکړي. **الله** پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق را کړي. اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي- [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د قرآنِ پاک تِلاوت سُنَّت دي

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک:** **(1):** زما د اُمَّت افضل عبادت د قرآن تلاوت دے- [2] **(2):** څوک چې د شپې **200** آيتونه تلاوت کړي، د هغهٔ

---

1 ... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

2 ... شُعَبُ الْاِیمان، باب: تعظیم قرآن، جلد:2، صفحه:347، حديث:2004۔

نوم به پهٔ عبادت کوونکو کښې ليکلے کيږي او څوک چې **400** آيتونه تلاوت کړي، د هغهٔ د پاره به يو قِنطَار اَجر ليکلے کيږي، يو قِنطَار د **120** قيراط برابر دے او يو قيراط د اُحُد د غر همره دے۔ (1)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د قرآنِ کريم تلاوت کول سُنَّت عمل دے۔ زمونږه خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ کثرت سره د قرآنِ کريم تلاوت کولو ❁ حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: يو څيز به هم خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تلاوت کولو نه نهٔ منع کولو ❁ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د شپې پهٔ نـمونځ کښې کله د ټول سُورهٔ بقره او د سُورهٔ آلِ عمران تلاوت کولو (2) ❁ هره شپهٔ به يې د سُوْرَهٔ سجده، سُورَهٔ مُلك، سُوْرَهٔ بنى اسرائيل، سُوْرَهٔ زُمَر، سُوْرَهٔ کافرون، سُوْرَهٔ فَلَق او سُوْرَهٔ نَاس تلاوت کولو او بيا به اودهٔ کيدلو۔ (3)

**الله** پاک دې مونږ ته هم ښهٔ ډير د قرآنِ پاک د تلاوت کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ۔

الٰہی خوب دے شوق قرآں کی تلاوت کا
شَرَف دے گنبدِ خضرا کے سائے میں شہادت کا

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

---

1 ... شُعَبُ الاِيْمَان، جلد:2، صفحه:401، حديث:2197۔

2 ... شمائل محمديه، باب فى صوم رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:121، حديث:320۔

3 ... شمائل محمديه، باب ما جاء فى نوم رسول الله صلى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:102، حديث:264۔

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا گر مدینے کا غم چاہیے چَشمِ نَم
چاہیے گر تمہیں قافلے میں چلو لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو( 1 )

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعې او زيارت په مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د مدينے د سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې د مدينے سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي. (2) راځئ چې مونږ هم په شريكه دا دُرُود ووائيو.

1 ...وسائل بخشش، صفحه:669۔

2 ...اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:151، خلاصةً۔

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې مدينے تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. [1] راځئ چې مونږ هم پۀ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي پۀ هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته کړے شي. [2] راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شريکه ووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي. [3] راځئ چې پۀ شريکه يې ووائيو.

---

1... اَفۡضَلُ الصَّلاۃ، صفحه:65۔

2... قَوۡلُ البَدِیۡع، باب ثانی، صفحه:277۔

3... اَفۡضَلُ الصلاۃ، صفحه:149۔

### ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰی لَهٗ

يوه ورځ يو کَس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې يې لوَلي.[1] راځئ چې مونږ يې هُم په شريکه ووائيو.

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡهُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَكَ يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف ولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه ووائيو.

### ﴿1﴾ د يو زر [1000] ورځو نيکۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهۡلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما نه رِوايت دے چې مدينے سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د يو زر [1000] ورځو پورې نيکۍ ليکي.[3] راځئ چې مونږ يې هُم په شريکه ووائيو.

---

1... قَوۡلُ الۡبَدِيۡع، باب اَوّل، صفحه:125۔

2... الترغيب والترهيب، كِتَابُ الذِّكۡر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حديث:30۔

3... مَجۡمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الۡاَدۡعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305۔

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغه چې شبِ قدر حاصل کړو-[1] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پهٔ شريکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي الله پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، الله پاک دے، د اووهٔ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... تاریخ ابنِ عساکر، 155/19، حدیث:4415